**مطبوعاتي اعلاميه**

**د عراق په پارلماني ټاکنو کې ګډون، د فساد د دوام او کافرو اشغاګرو او ملګرو ته يې د هېواد او خلکو د تسليمولو د اعلان معنا لري**



**(ژباړه)**

دا لومړی ځل نه دی چې موږ ټولو مسلمانانو، په ځانګړي ډول عراقيانو ته د ټاکنو په باب د شريعت حکم بيانوو؛ د الله سبحانه و تعالی د دغې وينا مطابق يې بيا تکراروو:

**﴿وَذَكِّرْ فَإِنَّ الذِّكْرَى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِينَ﴾**

[ذاريات: ۵۵]

***ژباړه:*** *په ياد کړه، په يقين سره يادول مومنانو ته ګټه لري.*

همدارنګه د رسول الله صلي الله عليه وسلم د لاندې حديث له مخې:

**الدِّيْنُ النَّصِيْحَةُ**

*ژباړه: دين نصحيت دی*

ټاکنې، يو انتخاب دی او په حقيقت کې استازيتوب دی او د پارلمان غړي د هغه چا استازي دي چې رايه يې ورکړې ده.

که د پارلمان کار ته وګورو، وينو چې کار يې د قانون جوړول دي؛ نو د پارلمان غړي اساسي قانون او نور قوانين جوړوي او تصويبوي يې، د دولت مشر ټاکي، دولت پر ځان باوري کوي، کار يې څاري، هوکړه ليکونه تصويبوي او نور.... دا ټول کارونه د اساسي قانو پر بنسټ وي. ښکاره خبره ده چې د اسلامي هېوادونو اساسي قوانين د بشر په لاس جوړ شوي دي او د الله له شريعت سره، چې پر رسول الله صلي الله عليه وسلم نازل شوی دی، ربط نه لري؛ بلکې پر ډيموکراسۍ او سيکولرېزم ولاړ دي، چې دين او ژوند بېل بولي او

وايي چې په عامه چارو؛ لکه سياست، اقتصاد، ټولنې، تعليم، عدلي او قضايي او نورو برخو کې د الله حکم نشته.

پر دې اساس، په ټاکنو کې ګډون کوونکی به د دغو چارو ترسره کولو لپاره په خپل استازيتوب اشخاص ټاکي او که موږ دغو کارو ته ځير شو وبه وينو چې حرام دي ځکه چې اساس يې غلط دی، يعنی چې خلکو ته د دې قدرت ورکول دي چې د الله سبحانه وتعالی پر ځای قوانين وضع کړي. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ﴾**

[مائده: ۴۴]

***ژباړه:*** *هغه کسان چې د الله په نازل شوي شريعت باندې پرېکړې نه کوي، کافران دي.*

الله سبحانه و تعالی په يوه بل ايت کې داسې فرمايي:

**﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجاً مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيماً﴾**

[نساء: ٦٥]

**ژباړه**: *قسم په الله، تر هغه مومنان نه دي، تر څو يې ته [محمد صلی الله عليه وسلم] د خپلو شخړو او لانجو د حل لپاره حکم [پرېکړه کوونکی] نه يې منلی او بيا په دې پرېکړه په زړه کې هېڅ تنګي احساس نه کړي او په سمه توګه نه وي تسليم شوي.*

له دې کبله، په ټاکنو کې ګډون په بشپړه توګه منع شوی دی، که هغه د يوه کانديد ټاکل وي او يا هم د ټاکنو په پاڼو کې د دوی ردول.

**اې د عراق خلکو!**

تاسو د دغو بدرنګو مخونو تر شا واقعيت نشی ليدلای، چې يوازې د خپل ځان او خپلې ډلې د ګټو لپاره کار کوي، چې له دوی څخه غواړي چې د هېواد پر سرچينو د کافرو اشغالګرو او دهغوی د غلامانو قدرت زيات کړي او خلکو ته سپکاوی وکړي!؟ تاسو د رسول الله صلي الله عليه وسلم دغه حديث نه دی اورېدلی؟ :

**«لاَ يُلْدَغُ المُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ»**

***ژباړه:*** *مومن بايد له يوې سوړې دوه ځلې ونه چيچل شي*

دوی تاسو ته څو ځلې په خپلو دروغجنو ژمنو بازي درکړې، څومره شتمني يې غلا کړې، د دوی په لاس او د دوی له لاسه څومره وينې توېې شوې دي!؟ نو اوس ستاسو دنده د دوی ټاکل دي او که له دوی څخه د دوی د کارونو حساب اخيستل؟

اې مسلمانانو!

موږ هغه خلک يو چې الله سبحانه و تعالی په اسلام سره عزت راکړی، که خپله سرلوړي له اسلام پرته په بل څه کې وګورو، الله به مو ذليل کړي. دا چې موږ اسلامي اصول او عقيده حمل کوو؛ نو لازمه ده چې له دغو اصولو او عقيدې پرته بل څه ونه منو. دغه اصول اسلامي شريعت دی چې د پلي کولو يوازينی شرعي لار

يې د نبوت پر منهج راشده خلافت تاسيسول دي، چې له خليفه سره د وفادارۍ تعهد وکړو او هغه به اسلامي قوانين پلي کوي. که داسې نه وي؛ پر اسلامي امت به ظلم روان وي، همداسې د کفارو غلامان به وي او د خاينو حکامو زياتی به هم زغمي.

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لله وَللرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ * وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْكُمْ خَاصَّةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾**

[انفال: ۲۴-۲۵]

اې مومنانو! د الله او د هغه د رسول هغه بلنه چې تاسو ژوند ته رابولي ومنئ او پوه شئ چې الله د انسان او د هغه د زړه ترمنځ حايل کېږي او الله ته به راټولېږئ او له هغې فتنې وويرېږئ چې يوازې ظالمان نه رانيسي او پوه شئ چې الله سخت عذاب ورکوونکی دی

**د حزب التحرير- ولايه عراق مطبوعاتي دفتر**

۱۴۳۹، د شعبان ۲۰مه

۲۰۱۸، د مې ٦مه

د صدور ګڼه: ۳۹/۰٦